مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید

۲۰۲۴/۰۹/۱۶

# په کابل کې د چایو پیاله، که د پنځو لسیزو ناکامه تګلاره

د افغانستان او پاکستان ترمنځ ترینګلي اړیکي په افغانستان کې د پاکستان د استخباراتي اداري د پخواني مشر لخوا د چایو د پیالي له څکلو څخه نه پیلیږي او نه هم همدلته ختمیږي، بلکې دغه اړیکي له پیچلیو کړلیچونو څخه تیریږي او ترینګلی تاریخ لري. د دواړو ګاونډیانو اړیکي له تاریخي پلوه ستونځمني او له یو لړ داسي ننګونو سره مخ دي چي کله کله یې ترمنځ فزیکي شخړي رامنځته کیږي.

دَ دغو د اړیکو د ترینګلتیا ریښي د بریتانیې د حاکمیت په مهال له افغانستان سره د لاسلیک شوي ډیورنډ کرښي له ترون څخه سرچینه اخلي چي پاکستان یې د دواړو هیوادونو ترمنځ نړیواله پوله او افغانستان یې له لمړی ورځي څخه د پولي په توګه له منلو څخه انکار کوي. افسوناک اړخ یې دادی چي په دغه هکله سیاسي هلي ځلي او دیپلوماسي نه، بلکې په تاوتریخوالي باندي ولاړه د نیابتي جګړو ستراتیژي کارول کیږي، خو شک نشته چي په دغه هکله د دواړو هیوادونو د حکومتونو او ولسونو ترمنځ د یوې هوکړي تر رامنځته کیدو پوري به کړکیچ دوام کوی. د پاکستان د لمړي وزیر د مرستیال هغه ځرګندوني چي وایي "پاکستان په کابل کې د چای پیالي د څکلو بیه ورکوي" د خورا اوږدي او پیچلي مسئلي د ساده ګرزولو هڅه ګڼل کیږي. دغه شان ځرګندوني ممکن د افغانستان په هکله د پاکستان د هغو اوږدمهاله ناکامو ستراتیژیکو تګلارو په تړاو د مسئولیت منلو د اهمیت کمولو هڅي وي چي په سیمه ایز ثبات یې منفي اغیزي کړي دي. د یوې پیالي چای څکلو د بیې ورکولو پرځای به د پاکستان د مشرتابه لپاره ډیره ګټوره وي چي خپلي د څو لسیزو تاریخي تېروتني ومني او له خپل ګاونډی هیواد سره د ډیپلوماتیکو اړیکو او ګډې همکارۍ له لارې د یوه باثباته راتلونکي بنسټ کیږدي.

د ترانزیتي او سوداګریزو مسائلو په برخه کي ترینګلتیا هم د دواړو هیوادونو ترمنځ د کړکیچنو اړیکو یو مهم عامل دی. د پاکستان لخوا په یو اړخیز ډول په ډیورنډ کرښه باندي د دروازو بندولو ، له سوداګریزو تړونونو څخه سرغړونو او په افغان ترانزیت باندي د یو اړخیزو بندیزونو لګولو په څیر مسئلو باندي شخړي اکثرا د دواړو هیوادونو ترمنځ د ډیپلوماتیکو خنډونو د راپورته کیدو او د کړکیچ لامل شوي دي.

په پاکستان کي نا امني یقیناً د افغانستان لپاره د اندیښني وړ خبره ده او باید افغان حکومت له پاکستان سره د دغه هیواد د مشرانو د اندیښنو په تړاو د امکان ترکچې مرسته وکړي، خو متأسفانه پاکستان په کور د ننه نیمګړتیاو محرومیتونو او خپلو ناکامو تګلارو ته له متوجه کیدو پرته او په دغه هکله د ډیپلوماتیکو فورمونو کارولو په پرتله افغانستان ته د ګواښونو او پارووونکو ګوتڅنډنه پالیسي ته دوام ورکوي. دغه سیاست په خپل ذات کي پوښتني راپورته کوي او په هیڅ ډول د توجیه وړ کرنه نه ده، بلکې له مسئولیتونو څخه د تیښتي او یا هم په عمدي توګه د اړیکو د خرابولو هڅه ده. بربنډ واقعیت دادی چي د نیابتي جګړو دوکتورین ناکامه او بدنامه تګلاره ده او د ګواښ لهجه کارول ګټوره ستراتیژي نه، بلکې پاروونکي ستراتیژی ده.

د پاکستان لخوا په کابل باندي د هري واکمني ډلي په مقابل کي د هغوی د مخالف وسلوال اړخ ملاتړ او په افغانستان کي اوږدمهاله شخړو ته لمن وهل هغه څه چي د پاکستان په تړاو یې د افغانانو په ذهنیت باندي خورا بدې اغیزي کړي دي، د افغانانو د باور کچه یې صفر ته راښکته کړي او له پاکستان څخه د افغانانو د کرکو لامل ګرزیدلی دی. د هغه افغان حکومت په مقابل کي دریدل چي د پاکستان دوست بلل کیږي او واک ته د رسیدو تر ورځي پوري یې پاکستان ملاتړ کړی وي هغه ذهنیت پیاوړی کوي چي وایي په افغانستان کي د پاکستان دوست حکومت رامنځته کیدل د ستراتیژیک عمق د تګلارې برخه نه ده، بلکې داسي ښکاري چي پاکستان په افغانستان کي تلپاتي نا امني د خپل ستراتیژیک ژوروالي د تګلارې برخه ګني. بناً دغه هیواد په کابل سرینا کي د خپل استخباراتي مشر د چاي څکلو بیه نه ورکوي، بلکې د ستراتیژیک عمق تر عنوان لاندي د افراطیت او تاوتریخوالي په اصل ولاړې د څو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

لسیزو ناکامو تګلارو بیه ورکوي او ددغو ناوړه تګلارو بدلون نه یوازې افغانستان ته ګټه رسوي بلکې پاکستان هم د نا امنیو له توپان څخه ژغوري.

په افغانستان کې د پاکستان ناکامه تګلاره، نه په کابل کې د پاکستاني استخباراتي مشر د چایو له پیالې څخه پیل شوی او نه هم دلته ختمیږي. له لسیزو راپدېخوا دغه مطلقاً ناکامه تګلاره پاکستان ته د ګڼو رسولو پرځای په اوږدمهاله توګه ستونځې راپورته کوي، په افغانستان کې د پاکستان ضد ذهنیت ته وده ورکوي، افراطیت ته لاره هواروي، د افغانستان د حریم دنقض له امله په تاوتریخوالي باندې ولاړ افغاني غبرګون ته مشروعیت ورکوي.

له نیکه مرغه ، په دې وروستیو کلونو کې، د پاکستان د عوامو او سیاستوالو په منځ کې هغه ذهنیت وده کړې ده چې د افغانستان په تړاو په تاوتریخوالي باندې متمرکزه پاکستاني تګلاره ناکامه شوې ده، پاکستان ته ستونځې ایجاد کړې دي او باید بدلون ومومي. دا بدلون به د دوه اړخیزو دوستانه اړیکو د پیاوړتیا، د ګډو ګټو پربنسټ د سیمه ییز پیوستون او اقتصادي پراختیا لپاره د سیمې له هېوادونو سره په ګډه د سترو اقتصادي پروژې عملي کول ښه نوښت وي او د سیمې د ولسونو لپاره به د پرمختګونو لاره پرانیزي.

د افغانستان په هکله د پاکستان د پالیسي جوړونکو ته مو مشوره داده چې په سیمه کې د سیمه ییز پیوستون له پروژو (تاپي/تاپ/ کاسا/ افغان ټرانز او داسې نور) څخه حمایت، د اعتدالي فکر ملاتړ ته ژمنتیا او له افغانستان سره په خپلو اړیکو کې په تاوتریخوالي باندې د راڅرخیدونکې تګلارې پرځای اقتصادي او سیاسي اړخونو ته لومړیتوب ورکړي. وخت ثابته کړه چې د پاکستان لخوا په افغانستان کې نیابتي جګړو ته د هڅونو او امکاناتو برابرولو، د سوداګریزو او ترانزیتي چارو په مخکې د خنډونو اچولو ستراتیژۍ، یوازې افغانستان ته نه، بلکې پاکستان ته هم زیانونه اړولي دي. د دواړو هېوادونو ترمنځ د څو لسیزو بې باورۍ او د یو بل د موخو په اړه د ژورو شکونو کمول نه ستړي کیدونکو هڅو سیمه ایز ثبات او د اتصال لپاره د عمل په ډګر کې خپله ژمنتیا ثابتول اړین ګامونه دي.

په سیمه ییزه او نړیواله کچه روانو ځینو تحرکاتو ته په کتو داسې ښکاري چې په افغانستان کې د بهرنیانو له پیاوړې او بربنډ ملاتړ څخه د برخمنې یوې بلې داسې نیابتي جګړې د پیلولو لپاره هڅې دوام لري چې اسلامي امارت به یې د مدیریت او مهار کولو وړتیا ونلري. له همدې امله د یوه افغان په صفت له ااا څخه غوښتنه لرم چې له بهرني ملاتړ څخه د برخمنې نیابتي جګړې بدو عواقبو ته په کتو په کور د ننه او بهر په مختلفو کورنیو او بهرنیو تګلارو کې د اصلاحاتو په رامنځته کولو باندې تمرکز وکړي او افغانستان له یوه بل نه ختمیدونکي بحران څخه وژغوري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ